پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۷/۱۶

# د خوشال خان ختک آثار

## خوشال پوهنه

## ۲۱



د خوشال بابا مزار

د خوشال خان د آثارو په باب له ډېر پخوا زمانو څخه بحثونه پيل شوي دي، کورنيو او بهرنيو پوهانو د خپلو مطالعاتو، مالوماتو او حدثياتو له مخې، د خوشال د آثارو شمير ښوولی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د پوهنتوني زدکړو په دوران کي، په ژوندی بڼه چي ما له خپلو درنو استادانو نه څه اوريدلي دي، د خوشال د آثارو د شمير په برخه کي هغوی سره له دې چي د يوې ځانګي غړي او علمي همکاران وو، خو په يوه خوله او يوه نظر نه وو. رشاد صاحب به يو ډول استدلال کاوه، تړي صاحب به بل څه ويل او بيا استاد ګل محمد نورزي به بل څه ويل.

علامه حبيبي «د خوشحال خان ختک مرغلرې» نومی اثر کي چي د خوشال پوهني په برخه کي د لومړنيو ليکل شوو آثار په ډله کي شميرل کيږي، د خوشال د افکارو، آثارو او کارنامو په باب مفصل بحثونه کړي دي او د خوشال د آثارو په برخه کي يې د «مؤلف او ليکونکی خوشحال خان» تر سرليک لاندې د خوشال د آثارو په باب لنډ بحث کړی دی چي زه يې کټ مټ را نقلوم:

«خوشحال خان که څه هم د عمر ډيره برخه په جګړو او کشمکش کي تيره کړي ده او د توري د ميدان بريالی او نامتو قايد دی، دغسي هم په علم او ادب کي ښه نوم لري، دی د پښتو ژبي پلار ګڼل کيږي او ډير کتابونه يې ليکلي دي.

د ده کليات او اشعار تر ۴۰ زرو بيتونو پورې رسيږي او نور ډير تاليفونه لري چي اوس متأسفانه ورک دي. د اروپا مستشرقين تر سل جلده پورې د ده تاليفات ګڼي او مستر راورتي يې تاليفونه (۲۵۰) بولي.

خوشحال خان د پښتنو تاريخ ليکلی او پارسي انوار سهيلي يې په پښتو د عيار دانش په نوم ترجمه کړی دی او يو جلد کوچنی کتاب يې متفرق ديني مضامين ليکلي دي.

خوشحال د ياد داشتونو کتاب هم لري چي افضل خان د ده لمسي په تاريخ مرصع کي حواله ورکوي.
دغسي هم ده فضل نامه (د توري او قلم نزاع) ليکلي ده او فرخنامه او رياض الحقيقت هم د ده تاليفونه دي چي اوس بالکل کمياقت دي.

نور د ده کتابونه او تاليفونه دا دي:

بازنامه: چي د بازانو د ښکار بحث دی،
هدايه: له عربي ژبي څخه پښتو سوی دی،
آينه: مذهبي... له عربي څخه په پښتو،
دستارنامه: ...
صحت البدن: حفظ الصحه او طب دی.

دغسي هم راورتي انګليسي مستشرق ليکي چي خوشحال خان يو راز مختصر نويسي ... ايجاد کړي وه چي فقط د ده په کورنی پورې مخصوصه وه، بل څوک نه پوهيده او نوم يې «زنځيری» و. (حبيبي عبدالحی، د خوشحال خان ختک مرغلرې، قندهار، ۱۳۱۷، ۴۶ ام مخ)
دغه راز سيد رسول رسا د «ارمغان خوشحال» په مقدمه کي د خوشال پر ژوند، افکارو او آثارو باندې مفصلي خبرې کړې دي او د مقدمي په پنځه اويايم (۷۵) مخ کي يې د «د خوشحال خان تصانيف» تر سر ليک لاندې د خوشال د دغو لاندې آثارو نوmonه ښولي دي:

۱ ــ کليات خوشحال خان،
۲ ــ دستار نامه،
۳ ــ فضل نامه،
۴ ــ باز نامه،
۵ ــ سوات نامه،
۶ ــ زنځيری،
۷ ــ بياض،
۸ ــ هدايه،
۹ ــ آئينه،
۱۰ ــ فراق نامه،
۱۱ ــ فرخنامه،
۱۲ ــ طب منظوم،
(ختک خوشال خان، ارمغان خوشحال، يونيورسټي بک ايجنسي خيبر بازار پيښور، دويم چاپ، ۲۰۰۱ م کال، د سيد رسول رسا مقدمه، ۷۵ ــ ۷۶ مخونه)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

استاد زلمي هیوادمل، د خوشال په باب د خپلو څیړنو په ترڅ کې، د خوشال د آثارو د شمیر په باب د خپلو نظریاتو تر څنګ، د کورنیو او بهرنیو څیړونکو نظریات هم را غونډ کړي دي چې لنډیز به یې زه دلته را واخلم:
«خان (خوشال بابا) په پښتو نظم او نثر آثار کښلي او ترجمه کړي دي، چې شمیره یې په بیلابیلو آثارو کې ډول ډول ښودل شوې ده:

په پښتو څیړنو کې موږ لولو، چې هانري جارج راورټي (۱۸۲۵ ـ ۱۹۰۶م) د خوشحال خان د آثارو شمیر (۲۵۰) ښودلی دی.

فرانسه یي پښتو پوه، جیمز ډارمستتر (۱۸۴۹ـ ۱۸۹۴م) بیا ویلي دي:
,,خوشحال خان ختک د تالیفاتو د شمیر له مخي تر آخوند درویزه کم نه دی او په نظم او نثر یي د پنځوسوو ټوکو په شا و خوا کې آثار کښلي دي،،

اروابښادي میرمن خدیجه فیروزالدین چې، د خپلې P,H,D تیسس یې په ۱۹۴۲م کال کې پر خوشحال خان باندې بشپړ کړی دی، د خوشحال خان د آثارو شمیر دري نیم سوه ښودلی ده (پشتون کون؟ ۳۱۷ مخ)

استاد کامل د خوشحال خان ختک په ۲۲۴ مخ کې ویلي دي چې د خان علیین مکان د تصنیفاتو او تالیفاتو د شمیر په اړه له مبالغې ډکه کار اخیستل شوی دی، ځینو د دغو آثارو شمیر ۲۰۰ او ځینو تر ۳۵۰ پورې بیان کړي دي.
له دغو ټولو یادونو سره، سره تر اوسه پورې د ده ځینې منظوم او منثور آثار ښکاره شوي دي، د ځینو یې نومونه ښکاره شوي دي او آثار لا تر اوسه نه دي پیدا شوي...» (هیواد مل سر محقق زلمی، ننګیالی د زماني، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني، ۱۳۸۰ـ ۲۰۰۱م ، ۱۷۳ ـ ۱۷۴ مخونه)

د خوشال د آثارو شمیر هر څومره چې وي، تر اوسه یې د شمیر کره اندازه نه ده مالومه شوې، خو د تر لاسه شوو او مالومو آثارو شمیر او نومونه یې شته چې څیړونکو ډیر ځلي خبرې او تبصرې ور باندې کړي دي.
د خوشال څومره آثار چې تر اوسه د نورو ماخذونو په مرسته پیژندل شوي او یا په مستقل ډول تر لاسه شوي او چاپ شوي دي، له هغوی نه د خوشال د ژوند، کارنامې او د طرز دید ښه مالومیدای شي. له دغو تر لاسه شویو آثارو نه داسې ښکاري چې هغه څه چې خوشال پښتو ژبې او پښتنو ته کړي دي، د تاریخ په اوږدو کې هیڅ قلموال نه دي کړي.

د خوشال د آثارو په برخه کې ګڼ نظرونه موجود دي، خو استاد زلمي هیواد مل په خپل اثر«ننګیالی د زماني» کې د خوشال آثار په مستند او علمي ډول ښوولي دي. استاد د خپل یاد کتاب په شپږم فصل کې د«فرهنګیالی خوشحال خان» تر سرلیک لاندې د خوشال ټول پیژندل شوي او تر لاسه شوي منظوم او منثور آثار معرفي کړي دي.

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ